# د مصیبتونو علاج

تألیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله پشاوری
حفظه الله تعالی



مکتبه محمدیه
کنج ګیټ منګل مارکیټ پشاور، پاکستان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تمام حقوق محفوظ دی



نام کتاب ——— د مصیبتونو علاج

نام مؤلف ——— فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

عام ——— ۶/ رمضان المبارک ۱۴۲۹ ھ

کمپوزنگ ——— ابو سلمان حضرت محمد غفر له

ناشر ——— مکتبه محمدیه گنج پشاور

**مکتبه محمدیه**

بیرون گنج گیټ پهندو روډ پشاور

موبائیل: 0301 8828402




بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله الذی خلق الإنسان للعبادة لا للعصیان o وبین طریق الشکر والکفران o وأنزل الکتب وأرسل الرسل إلی الإنس والجان o لیعبدوه ویطیعوه فی السر والإعلان o والصلاة والسلام علی سید العالمین فی کل زمان o محمد وآله وأصحابه البررة الکرام o**

**اما بعد :**

دا یوه رساله ده چه مسمیٰ ده په (علاج المصیبة). (یعنی د مصیبتونو علاج) سره. د الله عز وجل نه غواړم چه په خپل دربار عالیه کښې ئے قبوله او منظوره کړی. او زما دپاره او دَ ټولو لوستونکو او آوریدونکو دپاره ئے ذریعه او وسیله دَ خپلے رضا وګرځوی.

۞۞۞۞۞

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوال او جواب

**سوال :** څۀ علاج دے او څۀ دوائی ده دَ هغه مصیبت او تکلیف ؟ چه انسان هر قِسم کوشش کړے وی دَ هغے دلرے کولو۔ او څومره چه ورله علاج کوی هغه لا زیاتیږی۔ او دا داسے سخت مصیبت وی کۀ چرته دا پاتے شی او زائله نشی، نو د دغه سړی دنیا او آخرت تباه کوی۔

پس الله دے رحم وکړی په هغه چا چه ددے مصیبت علاج را وُښائی۔ او الله په امداد دَ بنده کښ وی، تر څو چه بنده په امداد دَ بل مسلمان کښ وی۔ ددے سوال جواب راکړه۔ جزاك الله خیرًا !

**الجواب :**

دا جواب مشتمل دے په یوه مقدمه او په دوه حصو باندے۔ هر آوریدونکی او کتونکی لره یادول پکار دی۔



# مقدمه

په حدیث دَ بخاری کښ راځی چه رسول الله ﷺ فرمائی مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً اِلَّا اَنْزَلَ لَهٗ شِفَاءً.

(رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ).

(نۀ دے رالیږلے الله څۀ مرض، مګر هغے له ئے شفاء او علاج هم رالیږلے)۔

٢ – په بل حدیث کښ راځی : عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَاِذَا اُصِیْبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَاَ بِاِذْنِ اللّٰهِ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

(جابر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دَ هر مرض علاج وی، کله چه ورسیږی دوائی هغه مرض ته، نو جوړ شی په حکم د الله سره)۔(مسلم)۔

٣ – عَنْ اُسَامَةَ بْنِ شَرِیْكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِیُّ ﷺ : اِنَّ اللّٰهَ لَمْ یَنْزِلْ دَاءً اِلَّا اَنْزَلَ لَهٗ شِفَاءً، عَلِمَهٗ مَنْ عَلِمَهٗ وَجَهِلَهٗ مَنْ جَهِلَهٗ. (رَوَاهُ اَحْمَدُ).

(اسامه بن شریك رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوفرمائیل : الله تعالیٰ نهٔ دے رالیږلے مرض، مګر رالیږلے ده هغے لـه شِفـاء او عـلاج۔ خو څوك پرے پو هیږی او څوك پرے نهٔ پو هیږی۔

پـه بـل روایت کـښ دی : چـه صرف د یو مرض علاج نهٔ کیـږی۔ صحـابـو ؓ عـرض وکـړو : هـغه کوم مرض دے ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بو ډاوالے۔(ترمذی)۔

## د مرض قِسمونه

مرض دوه قِسمه دے : (۱) بدنی (۲) قلبی او روحانی۔

پس د بدنی مرض دوه علاجه دی، یو ادویه طبّیه او ادویه ډاکټریـه استعمالول۔ ځکه چه په هغے باندے حکم راغلے دے په احادیثو کښ۔ لکه محدثینوؒ په خپلو کتابونو کښ کتـاب الـطب ذکرکړے دے، او په هغے کښ ئے علاجونه په دوایانو سره فرمائیلی دی۔

دویـم عـلاج : هـغه دعاګانے او ذکرونه او آیتونه چه قرآن او حدیث ذکر کړی دی، لکه کتاب الرقی یعنی د دمونو کتـاب، پـه بخاری، مسلم، ابوداود، ترمذی، مشکوٰة وغیره کـښ ذکر کړی دی۔ د هـغے یادول هر مسلمان له پکار دی، الله تعالیٰ به ئے د ډیرو مرضونو نه محفوظ کړی۔



لکه ددے تفصیل روستو راځی۔

## دَ قلبی او روحانی مرضونو علاج :

دا عـلاج پـه قـرآن او په دعاګانو او منقوله ذکرونو سره او په پریـخـودلـو دَ ګـنـاهـونـو سره کیږی۔ لکه تشریح به ئے روستو راشی۔ ان شاء الله۔ مثلاً جهل (ناپو هی) یو مرض دے، د هغے علاج سوال کول او تپوس کول د علماؤ نه دی۔

لکه حدیث د ابوداود کښ راځی۔

دَ جابر رضی الله عنه نه روایت دے، هغه فرمائی : « مونږ په یو سفرتلی وو، نو د یو سړی سر مات شو په کانړی۔ نو په سر کښ ئے زخم وشهٔ۔ نو بیا د شپے شیطان خطاکهٔ، یعنی احتلام ئے اوشو، نو د ملګرونه ئے تپوس اوکړو چه زما دپاره د تیمیم اجازت شته ؟ هغوئ اووئیل : نشته۔ ځکه چه تهٔ د اوبو په استعمالولو قدرت لرے، نو غسل ئے اوکړو، او مړ شو۔ هر کله چه مونږ واپس راغلو نو رسول الله ﷺ خبر شـهٔ، نو وے فرمائیل : دوئ وژلے دے، الله دے دوئ هلاك کړی، دوئ د عالمانو نه تپوس ولے نهٔ کولو، کله چه خپله نهٔ پو هیدل۔ ځکه چه دَ ناپو هئ (دَ مرض) شفاء او علاج تپوس کول دی »۔ (ابو داود)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قرآن شِفاء دے :

لکه چه خپله الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴾.

(اسراء : ۸۲).

«او رالیږو مونږه دا قرآن چه شِفاء او رحمت دے دَ مؤمنانو دپاره. او نهٔ زیاتوی دا قرآن ظالمانو لره مګر تاوان».

او په سورتِ فُصّلت کښ راځی :

﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا هُدًى وَّشِفَاءٌ ﴾.

(او وایه : دا قرآن د مؤمنانو دپاره هدایت او شفاء دے).

پس قرآن ټول شِفاء دے، او د ټولو مرضونو علاج دے. خصوصاً د شرك، کفر، شك، جهل، بدعت. پس دد دے په رنګ بهترینه دوائی دَ مرض په زائله کولو کښ نشته. لیکن افسوس دادے چه دا قرآن طاخچو کښ زوړ شهٔ. قانون د قرآن په ملك کښ نشته. قرآن راخستل نشته، او په هغهٔ عمل ډیر کم دے. پس مونږ الله ته خپل شکایت وړاندے کوو د داسے خلقونه. اوکهٔ څوك قرآن را اخلی نو یا خو صرف د ختم دپاره، یا د نور لالچ دپاره مګر د الله بعضے



بندګان داسے دی چه د هغوئ مقصد د الله رضا ده.

بخاری شریف کښ دَ ابو سعید رضی الله عنه حدیث دے، چه « څهٔ صحابه کرامؓ په سفر تلی وو، په یو کلی میلمانهٔ شو. لیکن هغوئ ورله میلمستیا ونکړه. پس د هغه کلی مشر څهٔ وُچیچلو، نو هیڅ دوائی فائده ورنکړه، نو د صحابوؓ خواله راغلل، او دوئ نه ئے دوائی طلب کړه. نو ابو سعید خدری رضی الله عنه اوفرمائیل : زهٔ به علاج اوکړم، لیکن زهٔ مزدوری اخلم. نو هغوئ ورله یو کنډك دَ ګډوبزو مقرر کړو. نو هغهٔ پرے سورتِ فاتحه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) ولوستله، نو الله پاك سمدستی جوړ کړو، نو مزدوری ئے ورکړه. نو بعضو صحابوؓ اوفرمائیل چه تقسیم ئے کړئ. خو ابو سعید خدری رضی الله عنه اوفرمائیل : نه، دَ رسول الله ﷺ نه تپوس پکار دے. نو کله چه واپس راغلل، نو رسول الله ﷺ اجازت ورکړو، او په خپله ئے هم دَ هغوئ دَ خوشحالولو دپاره څهٔ حصه ترے واخسته ».(بخاری).

نو سورتِ فاتحه لوئے علاج دے، او ډیر آسان علاج دے. لیکن یقین ته ضرورت دے. ځکه چه د الله او دَ رسول (ﷺ) په خبره کښ هرګز دروغ او خلاف د وعدے نهٔ راځی. مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئے دادے چه دوائی ظاهری تاثیر کوی، لیکن کله چه د انسان بدن قابل د هغے وی۔ دارنګ دعاګانے او آیتونه تاثیر کوی ۔ خو چه د لوستونکی همت قوی وی، او یقین لری۔

**دُعاء :**

دُعاء هم لوئے علاج او قوی دوائی ده۔ لیکن دومره خبره ده چه د دعاء شروط، آداب، الفاظ ددے تهولو رعایت چه کله اوشی، نو بیا سمدستی تاثیر کوی۔

نو زهٔ اوس د دعاء فضائل او احکام لیکم۔

**د دُعاء فضائل :**

الله جل شانه فرمائی :

﴿ اُدْعُوْا رَبَّکُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْیَةً اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ o ﴾. (اعراف).

( دَ خپل رب نه دعاء غواړئ په عاجزئ او په پټه سره، بیشکه چه الله نهٔ خوښوی زیاتے کونکی)۔(په دعاء کښې)۔

او بل ځائے فرمائی :

﴿ وَقَالَ رَبُّکُمُ ادْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَکُمْ ﴾ (الزمر).

(او ستاسو رب وئیلی دی چه مانه دعاء غواړئ زهٔ به ستاسو دعاء قبلوم)۔



بل ځائے ارشاد دے :

﴿ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ o ﴾ (البقره).

(زهٔ دَ دُعاء کونکی دعاء قبلوم کله چه مانه دعا غواړی، پس تاسو هم زما قبولتیا وکړئ او ایمان راوړئ په ما، دے دپاره چه هدایت بیاموموئ)۔(دا مفهوم د آیت دے)۔

ایوب علیه السلام باره کښې الله فرمائی :

﴿ وَاَیُّوْبَ اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ ﴾.

( او ایوب دَ الله نه دعاء اوغوښتله، پس الله ورله دعاء قبوله کړه)۔

دغه شان الله تعالیٰ دَ تهولو پیغمبرانو صفت دا کړے دے چه : ﴿ وَکَانُوْا یَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا وَکَانُوْا لَنَا خَاشِعِیْنَ o ﴾. (انبیاء).

(دوئ به مانه دعا غوښتله په شوق او په ویرے سره، او ماته به ئے عاجزی کوله)۔

نور هم ډیر آیتونه قرآن کریم کښې ذکر دی۔ دَ قرآن مطالعه پکار ده۔ دے رساله کښې صرف اشارات کافی دی۔

په حدیث د حاکم کښې په روایت دَ علی رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره راغلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائی :

اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ وَعِمَادُ الدِّيْنِ وَنُوْرُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ.

(دعاء دَ مؤمن وسله، دَ دین ستن او دَ آسمانونو او د زمکو رنړا ده)۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے :

لَا يُغْنِىْ حَذَرٌ مِنْ قَدَرٍ وَالدُّعَاءُ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ، وَاِنَّ الْبَلَاءَ يَنْزِلُ فَيَلْقَاهُ الدُّعَاءُ فَيَعْتَلِجَانِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

(یره دَ تقدیر نه څۀ نشی لرلے کولے، او دُعاء د مصیبتونو نه فائده ورکوی، کۀ راغلی وی او کۀ روستو راځی۔ او بیشکه مصیبت نازلیږی نو دعاء ورله مخکښ ورشی، پس تر قیامته پورے په جهګړه وی۔ یعنی هغه مصیبت نۀ راپریږدی)۔

او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « دعاء دَ نازل شوو او غیر نازل شوو دواړو مصیبتونو نه فائده ورکوی۔ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللهِ بِالدُّعَاءِ.

(نو د الله بندګانو ! دعا راتینګه کړئ »۔



ثوبان رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی :

لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ اِلَّا الدُّعَاءُ وَلَا يَزِيْدُ فِى الْعُمُرِ اِلَّا الْبِرُّ وَاِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ عَنِ الرِّزْقِ بِالذَّنْبِ يُصِيْبُهُ.

(تقدیر نۀ بدلوی مګر دعاء، او عمر نۀ زیاتوی مګر نیکی، او سړے دَ رزق نه محرومیږی په سبب دَ ګناه کولو)۔

دا حدیثونه مستدرك د حاکم راوړی دی۔

او د تقدیر بدلیدل او د عمر زیاتیدل، دا مسئله به روستو راشی۔

په یو حدیث کښ دی :

اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ. (دعاء بعینه عبادت دے)۔

په یو بل روایت کښ دی چه په سند کښ ئے ضعف دے :

اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ. (دعاء دَ عبادت مغز او نلے دے)۔

ځکه چه په دے کښ عاجزی او توجه ډیره وی۔

## دَ دعاء نۀ قبلیدو وجه

ددے ډیرے وجهے دی۔ یوه داده چه دا دعاء به وُرانه وی، د الله او د رسول ﷺ د رضا نه به خلاف وی۔ لکه یو سړے نیکانو خلقو ته خیرے کوی۔ لکه چه بعضو نه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آوریدلی دی چه الله دے وهابیانو ته هدایت اوکړی، اوکهٔ نهٔ کیږی نو الله دے ئے غرق کړی۔ حال دا چه دا اهلِ حقو ته خیرے کول دی۔

دویمه وجه داده چه زړهٔ الله طرفته پوره متوجه نهٔ وی په وخت د دعاء کښ۔ لکه بعضے خلقو دعاء کوی او اخوا دیخوا ګوری۔ اوبعضِ خبرے کوی او لاس ئے هم اوچت کړے وی۔ ددے مثال داسے دے لکه سړے لینده کښ کانړے کیدی خو لړه ئے راکاږی، نو کانړے ځائے ته وُنهٔ رسیږی۔ دارنګه دا دعاء هم الله ته نهٔ رسیږی۔

دریمه وجه دَ حرامو خوړل دی۔

لکه حدیث کښ راځی : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : « اے خلقو ! الله پاك ذات دے، اونهٔ قبلوی مګر پاك او حلال شے۔ او الله مؤمنانو ته په هغه څهٔ حکم کړے، چه په هغے ئے پیغمبرانو ته هم حکم کړے۔ الله تعالیٰ په قرآن کښ وئیلی دی : چه اے پیغمبرانو ! خوریٔ د حلالونه، او نیك عمل کویٔ، زهٔ ستاسو په عملونو خبرداریم۔(سورت المؤمنون : ۵۱)۔ اومؤمنانو ته ئے وئیلی دی : اے ایمان والو ! خوریٔ د هغه حلالو مالونو



نه چه مونږ درکړی دی (بقره : ۱۷۲) بیا رسول الله ﷺ د هغه سړی ذکر اوفرمائیلو چه اوږدهٔ سفرونه کوی، پریشان اوګرد آلود ویښتهٔ ئے وی۔ او لاسونه ئے آسمان طرفته نیولی وی۔ چه اے الله ! اے ربه ! یعنی سوالونه کوی۔ او حال دادے چه خوراك ئے حرام وی او څکاك ئے حرام وی، او جامے ئے حرامے وی۔ اوپه حرامو پاللے شوے وی۔ نو ددهٔ دعاء به څنګه قبوله شی ؟ »(مسلم)۔

څلورمه وجه : د ګناهونو زنګ دے په زړونو۔

پنځمه وجه : غفلت دے دَ الله تعالیٰ نه۔

شپږمه وجه : شهوت دے۔

اوومه وجه : لهویات دی۔

اتمه وجه : داده چه د دعاء په قبلیدو یقین نهٔ لری۔

حدیث کښ راځی : اُدْعُوا اللهَ وَأَنْتُمْ مُوْقِنُوْنَ بِالْإِجَابَةِ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ.

(د الله نه دعاء غواړئ په داسے حال کښ چه ستاسو یقین وی په قبلیدو، او یاد ساتیٔ چه الله د غافله او لهوه کونکی زړهٔ نه دعاء نهٔ قبلوی)۔

(رواه الحاكم فی المستدرك عن أبی هريرة).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهمه وجه: د ګناهونو نه توبه نهٔ ویستل دی:

لکه حدیث د مسند احمد کښې راځی: چه «بنی اسرائیلو ته څهٔ بلا او تکلیف اورسیدهٔ. نو دوئ یو میدان ته لاړل. الله تعالیٰ وحی اوکړه د هغوئ نبی ته چه دوئ له خبر ورکړه، چه تاسو دے میدان ته په نجسو بدنونو راغلی یئ. او تاسو ماته هغه لاسونه اوچتوئ چه په هغے تاسو وینے توئ کړی دی، او تاسو کورونه د حرامو نه په دغه لاسونو ډك کړی دی. اوس چه کله زما غضب په تاسو سخت شهٔ، نو تاسے مانه دعاء غواړئ. پس تاسو مانه لا لرے کیږئ.

لسمه وجه: استعجال (تادی کول) دی: یعنی انسان دا وائی چه ما ډیرے دعاګانے اوکړے. یوه هم قبوله نشوه. پس ستړے شی او دعاء پریږدی.

حدیث کښې راځی: رسول الله ﷺ فرمائی: يُسْتَجَابُ لِاَحَدِكُمْ مَالَمْ يَعْجَلْ يَقُوْلُ قَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِيْ.

(رواه البخاری).

(قبلیږی ستاسو نه دَ یو کس دعاء تر څو چه جلتی اونهٔ کړی، وائی چه ډیرے دعاګانے مِ اوکړے خو قبولے نشوے).



یو بل حدیث کښې راځی، رسول الله ﷺ فرمائی: لَا يَزَالُ الْعَبْدُ بِخَيْرٍ مَالَمْ يَسْتَعْجِلُ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ! كَيْفَ يَسْتَعْجِلُ؟ قَالَ: يَقُوْلُ: قَدْ دَعَوْتُ رَبِّيْ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِيْ.

(همیشه وی بنده په خیر کښې، تر څو چه جلتی اونهٔ کړی، صحابوؓ عرض وکړو، اے د الله رسوله! جلتی څهٔ ته وائی؟ وے فرمائیل: انسان وائی: ډیرے دعاګانے مے اوکړے خو الله قبولے نهٔ کړے). (احمد).

یولسمه وجه داده: چه په دعاء کښې اخلاص نهٔ وی. لکه وائی: الله او پیر بابا دے مَل شه. او الله او کاکا صاحب دے اووهه. داسے کلمے استعمالول ناجائز دی، بلکه دا دَ شرك خبرے دی. سرے پرے مشرك کیږی.

دولسمه وجه: داده چه دعا په داسے وخت کښې اوکړی چه په هغے کښې رسول الله ﷺ نهٔ وی کړی. لکه دَ سنتو نه پس په جَمع سره دعاء وغیره. نورے وجهے هم شته، خو زهٔ دا رساله مختصره لیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعاء آداب

۱ – حضور قلبی یعنی الله ته توجه کول۔ لکه مخکښ حدیث کښ تیر شو۔

۲ – په دے اوقاتو کښ دعاء ښه قبلیږی :

د فرض مانځه نه پس، او د تهجدو په وخت کښ۔

لکه حدیث کښ راځی :

قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اَیُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ ؟ قَالَ : جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ.

(چا تپوس اوکړو، اے د الله رسوله ! کومه دعاء ښه قبلیږی ؟ وے فرمائیل : دَ شپے په آخری حصه کښ (دَ تهجدو په وخت) او د فرض مونځونو نه پس)۔

۳ – دَ آذان کیدو په وخت۔

٤ – دَ جُمعے دَ خطبے په وخت۔

٥ – دَ جُمعے دَ ورځے دَ مازیگر نه پس۔

٦ – دَ آذان او اقامت په مینځ کښ۔

دا شپږ وختونه حدیثو کښ ذکر شوی دی۔

۲ – دویم ادب : خشوع او خضوع سره دعاء غوښتل۔

۳ – دریم ادب : قبلے ته مخ کول۔



٤ – څلورم ادب : دَ اوداسهٔ په حالت کښ دعاء غوښتل۔

٥ – پنځم ادب : تر سینے پورے لاسونه اوچتول۔

٦ – شپږم ادب : دَ دعاء په شروع کښ د الله حمدونه اوصفتونه کول۔

۷ – اووم ادب : بیا په رسول الله ﷺ باندے درود وئیل۔

۸ – اتم ادب : دَ حاجت غوښتلو نه مخکښ توبه ویستل۔

ددے ټولو آدابو نه پس دِے الله تعالیٰ ته متوجه شی او په مبالغے او زاریٔ، او په ویرے او رغبت سره دِے دعاء اوغواړی۔ او دَ الله په مخکښ دے چاپلوسی اوکړی۔ او هغهٔ ته دے دَ هغهٔ په نومونو او صفتونو او په توحید سره وسیله پیش کړی۔ او دَ دعاء نه مخکښ دے څهٔ صدقه خیرات اوکړی۔ نو ان شاء الله چه دا قِسم دعاء به الله تعالیٰ نهٔ رد کوی۔

او خاصکر هغه دُعا، په کومه باندے چه رسول الله ﷺ د قبولتیا حکم لګولے وی۔

لکه د **دعاء** دا راتلونکی **الفاظ** استعمالول پکار دی۔

۱ – نبی کریم ﷺ دَ یو سړی نه واوریدل چه داسے دعاء ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ بِاَنِّیْ اَشْهَدُ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ.

(اے الله ! زهٔ تانه دعاء په وسیله ددے کوم چه زهٔ دا ګواهی کوم چه تانه سیوا بل اِله او معبود نشته. تهٔ یواځے اوے حاجته ئے. هغه ذات ئے چه نهٔ د چانه پیدا دے، او نهٔ ترے څوك پیدا دی، او نشته دهٔ لره برابر هیڅوك).

نو نبی ﷺ اوفرمائیل: دے سړی د الله نه دعا په هغه نوم اوکړه چه څوك پرے دعا اوکړی نو قبلیږی).

(رواه ابن حبان عن عبد الله بن بریدة).

۲ – دَ انس رضی الله عنه په حدیث کښ دی دا وایم: زهٔ د رسول الله ﷺ سره ووم، نو هغهٔ د یو سړی نه واوریدل چه دَ مانځه نه پس ئے داسے دعا کوله:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ بِاَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِیْعُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ یَاحَیُّ یَا قَیُّوْمُ.

(اے الله ! زهٔ تانه سوال کوم په وسیله د صفتونو ستا سره. نشته لائق دَ عبادت سیوا ستانه، تهٔ احسان کونکے ئے، او ناشنا پیدا کونکے دَ آسمانونو او زمکے ئے. اے دَ



لوئی او د عزت خاونده ! اے ژوندیه اے تدبیر کونکیه !).

نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « دے سړی دَ الله په اسمِ اَعظم سره دعا اوکړه، او دا داسے نوم دے چه په دے سره د هر چا دعا قبلیږی، او په دے هر حاجت پوره کیږی ».

(رواه ابن حبان واصحاب السنن).

۳ – د اسماء بنت یزید رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « دَ الله اسمِ اعظم په دے دوه آیتونو کښ دے:

وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ، لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ.

(البقرة: ۱۶۳).

او دَ سورت آل عمران په شروع آیتونو کښ:

الٓمّٓ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ. (رواه الترمذی).

د الله رب العزت حکمت دے په پټولو دَ بعضے شیانو کښ. لکه لیلة القدر، او په ورځ دَ جُمعے کښ یو ساعت د دعاء د قبلیدو وی هغه هم نامعلومه وی. دارنګه خاتمه وغیره. دارنګه اسمِ اعظم هم الله رب العزت پوره نهٔ دے ښکاره کړے، دے دپاره چه انسان ورپسے کوشش اوکړی، او د الله ټول صفتونه اووائی.

۴ – عَنْ اَنَسٍ وَاَبِیْ هُرَیْرَةَ وَرَبِیْعَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهُ قَالَ : اِلِظُّوا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ.
(رواه الحاكم وأحمد).

(انس، ابو هريره او ربيعه بن عامر رضی الله عنهم فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « په يا ذا الجلال والاكرام باندے كلك شئ او هميشه والے پرے اوكړئ په دعا كښې »۔

٥ – د ابو هريره – رضی الله عنه – نه روايت دے چه «رسول الله ﷺ به كله مبالغه او كوشش په دعا كښې كولو، نو داسے به ئے وئيل : يا حيی يا قيوم ... الحديث ».
(ترمذی).

دَ ترمذی په بل روايت كښې راځی « چه كله به رسول الله ﷺ يو كار خفه كړو، نو داسے به ئے فرمائيل په دعاء كښې :
يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ ».

٦ – سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « دَ يونس عليه السلام دعاء چه كله هغهٔ د ماهی په خيټه كښې كړے وه :
لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ .
(انبياء : ٨٧).



په دے دعاء باندے چه كوم مسلمان بنده په يو حاجت كښې دعا اوغواړی نو ضرور به الله د هغهٔ دعاء قبلوی » (ترمذی).

بل روايت كښې دی : چه « دا دعاء د هر مصيبت نه د خلاصی ذريعه ده »۔ رواه الحاكم.

او بل روايت كښې دی : « چا چه دا دعاء په بيمارئ كښې څلوېښت ځله اووئيله، نو كهٔ چرته مړ شو نو شهيد به وی۔ اوكهٔ جوړ شو، نو بخښنه به ورته اوشی »۔ (الحاكم).

## د مصيبت دعاء

بخاری او مسلم كښې دی چه رسول الله ﷺ به د مصيبت په وخت كښې دا دعاء فرمائيله :
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ.

## دَ غم او دَ همّ دعاء

په مسند احمد كښې د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ فرمائی : « نهٔ رسيږی يو كس ته هيچرے څهٔ غم يا هَمّ، پس چه دا دعاء اووائی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ ، نَاصِيَتِیْ بِيَدِكَ، مَاضٍ فِیَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِیَّ قَضَائُكَ اَسْاَلُكَ اللّٰهُمَّ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهٖ نَفْسَكَ اَوْ عَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِیْ كِتَابِكَ اَوِ اسْتَاْثَرْتَ بِهٖ فِیْ عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قَلْبِیْ وَنُوْرَ صَدْرِیْ وَجَلَاءَ حُزْنِیْ وَذَهَابَ هَمِّیْ.

نو الله به لرې کړي غمونه او خفگانونه ددهٔ او په بدله کښې به ورله خوشحالي ورکړي۔ نو چا عرض اوکړو چه: یا رسول الله ! نهٔ ئې زده کوو ؟ نو وې فرمائیل : ولې نه ! چاچه واریده نو هغهٔ له پکار دي چه زده ئې کړي »۔

ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي : په هر نبي باندې به چه کله څهٔ مصیبت راغې، نو هغهٔ به په سبحان الله سره امداد طلب کولو۔

## غل نه دَ بچ کیدو دعاء

حسن بصریؒ فرمائي : « دَ ابو المعلق په نوم یو صحابي وو، هغه تاجر وو۔ یوه ورځ یو غل گیر کړو۔ ورته ئې اووئیل : چه زهٔ درنه مال اخلم، او قتل کوم دې هم۔ نو هغهٔ دَ څلورو رکعتو اجازت اوغوښتلو۔ نو په آخره سجده کښې



ئې دا دعاء اوغوښتله :

یَا وَدُوْدُ یَا وَدُوْدُ یَا ذَا الْعَرْشِ الْمَجِیْدِ یَا فَعَّالًا لِّمَا تُرِیْدُ اَسْاَلُكَ بِعِزِّكَ الَّذِیْ لَا یُرَامُ وَبِمُلْكِكَ الَّذِیْ لَا یُضَامُ، وَبِنُوْرِكَ الَّذِیْ مَلَأَ اَرْكَانَ عَرْشِكَ اَنْ تَكْفِیَنِیْ شَرَّ هٰذَا اللِّصِ یَا مُغِیْثُ اَغِثْنِیْ یَا مُغِیْثُ اَغِثْنِیْ.

درې ځله ئې دا دعاء اوکړه۔ نو الله دَ آسمان نه د هغه غل د وژلو دپاره یو ملائك رالیږلهٔ۔

حسن بصریؒ وائي : چاچه اودس اوکړو، او څلور رکعته مونځ ئې اوکړو، او دا دعاء ئې اووئیله، نو الله تعالیٰ به ئې قبوله کړي۔ کهٔ په دهٔ څهٔ غم وي او کهٔ نهٔ وي »۔

(رواه ابن ابی الدنیا عن الحسن)۔

## فصل : دعاء دَ وسلې پشان ده :

خو دومره خبره یاده کړه چه وسله هله کار کوي کله چه مټ قوي او مضبوط وي، او څهٔ مانع نهٔ وي لکه په دشمن څهٔ زغره یا خود نهٔ وي، نو پوره کار کوي۔ دارنګه چه دعا وي او په توجه سره وي، او نور څهٔ مانع دَ قبلیدو نهٔ وي، لکه بعض موانع مونږ مخکښې بیان کړل، نو دُعا بیا ښهٔ کار کوي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضِ خلق وائی چه دُعا ته هیڅ ضرورت نشته. ځکه چه داشے به الله یا لیکلے وی په تقدیر کښ یابه ئے نۀ وی لیکلے. کۀ لیکلے وی، نو دُعا ته حاجت نشته. او که نۀ وی لیکلے، نو بیا هم دُعا ته حاجت نشته. دا قِسم خلق سخت جاهلان دی. مونږ الزامًا وایُو چه ستا موړوالے او تنده ماتیدل او بچی پیدا کیدل به الله یا لیکلی وی یانۀ، کۀ لیکلی ئے وی، بیا روټئ خوړلو او اوبۀ څکلو ته حاجت نشته اونۀ وادۀ کولو ته حاجت شته. اوکۀ نۀ ئے وی لیکلی، نو بیا بے ضرورته کار ولے کوے ؟

بعضِ خلق وائی چه په دُعا هیڅ نۀ کیږی. لیکن دا صرف عبادت دے. کول ئے پکار دی. دا خلق هم غلط وائی. بلکه :

صحیح خبره داده چه هر شے الله په تقدیر کښ لیکلے، لیکن سره دَ اسبابونه. مثلًا موړ والے الله لیکلے دے، او سبب، ئے ورله خوراك لیکلے. دارنګه تۀ چه څۀ حاجت غواړے، هغے دپاره الله دُعاء سبب ګرزولے دے. نو څوك چه دُعا پریږدی هغه جاهل دے.

صحابو ؓ ته دا فضیلتونه معلوم وو، ځکه په هر ځائے



کښ به هغوی الله ته متوجه کیدل او دُعا به ئے غوښتله.

حدیث دَ ابن ماجه کښ راځی :

مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ.

« څوك چه د الله نه دُعا نۀ غواړی، الله په هغۀ غضب کوی ».

نو معلومه شوه چه الله تعالیٰ په سوال او تضرع سره راضی کیږی. او دُنیا کښ زمونږ د مسلمانانو بل مقصد نشته بغیر د رضا کولو د الله نه.

په حدیث کښ راځی چه الله فرمائی :« زۀ الله یم، مانه سیوا بل معبود نشته. کله چه زۀ راضی شم، نو برکت اچوم، او زما دَ برکت څۀ انتهاء نشته. او کله چه زۀ د چانه خفه شم، نو بیا پرے لعنت کوم، او زما لعنت تر اوو پُشتونو پورے رسیږی ». (مسند احمد).

پس الله په کومه خبره زیات خوشحالیږی هغه د ګناهونو دَ پریخودلو په وجه رضا کیږی. او دَ تقویٰ معنیٰ هم داده د ګناه نه ځان ساتل.

نو دَ دنیا دَ ټولو مصیبتونو سبب ګناهونه دی، لکه قرآن مجید کښ الله فرمائی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ وَمَا اَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْ عَنْ كَثِيْرٍ ﴾. (شوری).

(کوم مصیبت چه تاسو ته رسیږی هغه ستاسو د عمل په وجه، او الله خو د ډیرو نه معافی کوی).

لیکن دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د خیر او د شر اسباب معلومول ضروری دی. او دا په تجربه او په علم التاریخ او په آوریدلو د اخباراتو ماضیو او خصوصاً په قرآن پاك کښې سوچ کولو سره انسان ته حاصلیږی. او بیا په علم الحدیث کښې سوچ کول دی. او قرآن او سنت د ټولو شیانو اسباب بیان کړی دی.

دویمه خبره داده: چه د نفسِ غلط فهمئ نه ځان ساتل ضروری دی. ځکه چه انسان دا ښهٔ پیژنی چه گناه، غفلت او شهوت ضرری شیان دی، لیکن دے په غلط فهمئ کښې پریوزی او، وائی چه الله غفور رحیم دے.

او کله وائی: توبه به وُباسم.

او کله یو دوه رکعته نفل اوکړی، نو ځان معصوم حسابوی.

اوکله وائی: تقدیر کښې به مقرر وی داسے. اوکله وائی:



ټول خلق داسے کوی، نو کهٔ ما اوکړو، نو څهٔ چَل اوشهٔ.

او ډیر خلق دا گمان کوی، کهٔ زه هر څومره گناهونه اوکړم، او استغفر الله اووایم پس ختم به شی.

او بعضِ وائی چه گناهونه کوه، او بیا سل ځله : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ اووایه : بس گناه به ډِیے زائله شی.

او بعضِ وائی: اَلتَّنَزُّهُ مِنَ الذُّنُوْبِ جَهْلٌ بِسِعَةِ عَفْوِ اللهِ.

(د گناهونو نه ځان ساتل د الله په فراخه عفوه ناخبری ده). او بعضِ وائی : زهٔ مجبوریم.

او بعضِ وائی: پردو زنانو ته کتل جائز دی، ځکه چه دا خو بهر ته راوتی دی.

او بعضِ وائی چه مونږ به خپل پیران بچ کوی. او هغوی به مونږ له سفارش کوی.

او بعضِ وائی: مونږ مِیان گان اوسیدان یُو. زمونږ گناهونه به زمونږ مشران معاف کوی په سفارش سره.

او بعضِ وائی: حدیث کښې راځی چه الله فرمائی: زهٔ د بنده دَگمان سره یم په ما باندے. پس زمونږ په الله دا گمان دے چه جنت ته به مو بوزی.

لیکن دا خبره صحیح نهٔ ده، ځکه چه په الله هغه سړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح ګمان کولے شي څوك چه دَ هغهٔ تابعداري وي. او نافرمان په الله ښهٔ ګمان نشي کولے، لکه یو مرئیے وي هغه اوتختي، کله چه هغه واپس راوستے شي، نو د هغهٔ ګمان دا وي چه مَولیٰ به سزا راکوي.

دےوجے نه حسن بصريؒ فرمائي:

اِنَّ الْمُؤْمِنَ اَحْسَنَ الظَّنَّ بِرَبِّهٖ فَاَحْسَنَ الْعَمَلَ، وَاِنَّ الْفَاجِرَ اَسَاءَ الظَّنَّ بِرَبِّهٖ فَاَسَاءَ الْعَمَلَ.

( مؤمن په خپل رب ښهٔ ګمان لري ځکه نیك عمل کوي، او بدکاره سړے په الله غلط ګمان لري نو ځکه غلط اعمال کوي)۔

په اصل کښې دا دَشیطان دهوکے او حربے وي. راشه اوګوره چه څومره خوف وو دَ رسول الله ﷺ، چه یو کرت ورسره شپږ یا اووهٔ اشرفئ وے، نو دَ شپے خوب نهٔ ورتلو او په مرضِ وفات دَ هغهٔ کښې عائشے رضی الله عنها ته ئے فرمائیلي وو چه خرچ ئے کړه. لیکن هغے د څهٔ مشغولتیا په وجه خرچ نکړے. نو نبيﷺ اوفرمائیل چه څهٔ ګمان دے دَ الله د نبي، کهٔ الله سره ملاؤ شي او دا روپئ ورسره وي؟

امام معروفؒ فرمائي:



رَجَاؤُكَ لِرَحْمَةِ مَنْ لَا تُطِیْعُهٗ مِنَ الْخُذْلَانِ وَالْحُمْقِ.

دَ هغه چانه امید ساتل چه تهٔ دَ هغهٔ تابعداري نهٔ کوے دا خو شرمندګي او کم عقلي ده.

او حسن بصريؒ ته چا اووئیل چه:

اَرَاكَ طَوِیْلَ الْبُكَاءِ فَقَالَ: اَخَافُ اَنْ یُطْرِحَنِیْ وَلَا یُبَالِیْ.

زهٔ تا وینم چه تهٔ ډیر زیات ژاړے دا ولے؟ نو هغهٔ وئیلے: ماسره دا ویره ده چه الله به مے اور ته ګذار کړي او هغه دَ هیڅ پرواه نهٔ لري.

او حسن بصريؒ دا هم فرمائیلي دي: چه بعضِ خلق امیدونه د مغفرت لري، نو د دنیا نه بے توبے لاړ شي.

او نبي کریم ﷺ فرمائي:

یَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰی دِیْنِكَ.

«اے دَ زړونو اړونکیه! زما زړهٔ په خپل دین باندے مضبوط کړه»۔

او دا به ئے هم فرمائیل چه «زړونه د الله په دوو ګوتو کښې دي. کوم خوائے ئے چه غواړي اړوي ئے»۔

یو روایت کښې دي چه «نبي ﷺ جبرئیل علیه السلام ته اوفرمائیل: څهٔ وجه ده چه میکائیل علیه السلام نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندی ؟ نو هغهٔ ورته اووئیل : میکائیل د هغې ورځې نه را په دیخوا نهٔ دی خندلی، کله نه چه اور پیدا شوے دے»۔

یو روایت کښې راځی، چه نبی ﷺ یو کرت یو جماعت اولیدهٔ، نو تپوس ئے اوکړو چه ولے راجمع شوی دی ؟ نو چا اووئیل چه قبر کنی۔ نو نبی ﷺ په منډه لاړو او قبر خوا کښې کیناستو، او په ژړا شو، تردے چه زمکه ئے په اوښکو لونده کړه۔ او بیائے مونږ ته ارشاد اوفرمایهٔ : اے رونړو! دے ورځې دپاره تیاری اوکړئ۔ (مسند احمد)۔

دا قِسم روایتونه نور هم ډیر زیات دی۔

نو مقصد داشهٔ چه هسے امیدونه نهٔ دی کول پکار، بلکه اعمالِ صالحه پکار دی۔ او خوفِ اِلٰهی ډیر ضروری شے دے۔

پس د ټولو ګناهونو نه ځان بچ کول پکار دی، ځکه چه مخکښې بیان شو چه دَ ټولو مصیبتونو سبب معصیتونه دی۔ او دَ نعمتونو د راتلو لوئے سبب تقویٰ ده۔ لیکن دا اوس ډیره کمه شوے ده۔ او حال دادے چه قرآن پاک کښې چه الله پاک په تقویٰ څومره زور ورکړے دے۔ هغه پټ نه دے۔ په سورتِ بقره کښې الله پاك پنځه دیرش کرته دتقویٰ



ذکر کړے دے۔ باقی قرآن خو ترے ډك دے۔

**دګناهونو ضررونه :**

زهٔ مختصر یو څو ضررونه او بد اثرات دګناهونو لیکم، چه زړهٔ اوبدن ته په دنیا او آخرت کښې ضرر ورکوی۔ هر انسان د خپلے کامیابۍ دپاره کوشش کوی۔ خو لیکن شیطان د انسان نه دشمن دے۔ هغهٔ صحیح لاره د کامیابۍ د انسان نه هیره کړے ده۔ پس هوښیاریدل پکار دی او دَ شیطان سره عداوت کول پکار دی۔

**۱ - اول : د علم نه محرومتیا :**

د علم نه محرومتیا دګناه په وجه کیږی۔ علم نور دے، اوګناه دغه نور مړ کوی۔ لکه دَ امام شافعیؒ په باره کښې راځی چه کله دوئ دَ امام مالكؒ نه تعلیم شروع کړو۔ نو امام مالكؒ ته ددهٔ زیرکتیا او پوهه اوعقل معلوم شهٔ۔ نو دهٔ ته ئے اوفرمائیل :

إِنِّيْ أَرَى اللهَ قَدْ أَلْقَى عَلَيْكَ نُوْرًا فَلَا تُطْفِئْهُ بِظُلْمَةِ الْمَعْصِيَةِ.

(زهٔ وینم چه الله په تا باندے نورا چولے دے۔ نو دَ ګناه دَ تیارے په وجه ئے مړ نهٔ کړے)۔

امام شافعیؒ فرمائی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



شَكَوْتُ إِلٰى وَكِيْعِ سُوْءَ حِفْظِي
فَأَرْشَدَنِيْ إِلٰى تَرْكِ الْمَعَاصِيْ

( ما خپل استاذ وكيع ؒ ته د حافظې دَ كمزورئ شكايت اوكړو، نو هغهٔ ماته دَ گناهونو نه د بچاؤ وصيت اوكړو.

فَإِنَّ الْعِلْمَ فَضْلٌ مِنَ اِلٰهٖ
وَفَضْلُ اللهِ لَا يُعْطىٰ لِعَاصِيْ

(ځكه علم د الله فضل دے، او الله خپل فضل نافرمان ته نهٔ وركوى).

٢ – **دويم** : گناهونه دَ رزق او د مال نه د محرومه كيدو سبب دے. حديث كښې راځي : (( انسان دَ گناه په سبب دَ رزق نه محرومه كيږى)). (مسند احمد).

نو تقوىٰ سبب د رزق او گناه سبب دَ فقر دے.

٣ – **دريم** : گناهونه سبب دَ وحشت دے. انسان ته هيڅ شے بيا مزه نهٔ وركوى. اگركهٔ د ټولے دنيا مزے راجمع شي. ليكن په دے وحشت د زړهٔ هغه څوك پوهيږى چه إحساس په كښې وى، ځكه چه :

وَمَا لِمَيِّتٍ بِجَرْحٍ مِنْ إِيْلَامٍ.

مړے دَ زخمى كيدو په درد نهٔ پوهيږى.



٤ – **څلورم** : د گناهونو په سبب د انسان او د نورو خلقو ترمينځه يو وحشت او بے محبتي واقع كيږى، خصوصًا انسان دَ نيكانو خلقو نه وړاندے كيږى، هغوى نه به هم بد معلوميږى فطرةً. او دے هم د هغوئ نه نختى. او څومره چه لرے وزى، هغومره شيطان ته نزدے كيږى. تردے چه دا وحشت ددهٔ او د ښځے او د بچو او د خادمانو ترمينځه راشي، نو بيا به ئے هيڅوك تابعدارى نكوى.

لكه بعضِ علماء فرمائى : چه زهٔ كله دَ الله څهٔ نافرمانى اوكړم. نو هغه زهٔ دَ خپلے ښځے او د خپل څاروى (سورلئ) په اخلاقو كښې پيژنم.

٥ – **پنځم** : گناهونه سبب دَ گرانئ او سختئ د كارونو دى په دهٔ باندے. پس هر خوا چه مخ كړى، نود هر كار دروازه به پرے بنده وى. اويا به سخته وى. ځكه څوك چه د الله نه ويره كوى نو : ﴿ يَجْعَلْ لَّهُ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ﴾.

الله به ورله كارونه آسان كړى. (الطلاق).

نو څوك چه تقوىٰ معطله كړى، نو هر كار به ورته الله پاك سخت كړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ – **شپږم** : په زړهٔ باندې به ئې تیارهٔ راشي، تردې چه دې به پرې داسې پوهیږي لکه د شپې په تیارهٔ چه سړې پوهیږي. ځکه چه طاعت نور دې او معصیت (گناه) تیارهٔ ده. اوکله چه دا تیارهٔ ډیره شي، نو سړې بیا په بدعاتو او گمراهئ کښ واقع شي. او دې نهٔ پوهیږي. لکه یو ړوند سړې په لاره روان وي، اومخکښ کنده راشي او دې خبر نهٔ وي، نو په کښ ور اوغورزیږي. پس دا تیارهٔ بیا په مخ باندې تیارهٔ راولي، نو هر څوك ئې پیژني، لکه تاسو تجربه اوکړئ. چه پولیس والا چه کله گاډي ته را اوخیژي، نو په فاسقانو خلقو گوتې وَهي. ښهٔ او خراب بیل پیژني.

عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی :

إِنَّ لِلْحَسَنَةِ ضِيَاءً فِي الْوَجْهِ وَنُورًا فِي الْقَلْبِ وَسَعَةً فِي الرِّزْقِ وَقُوَّةً فِي الْبَدَنِ وَمَحَبَّةً فِي قُلُوبِ الْخَلْقِ، وَالْمَعْصِيَةُ بِضِدِّ ذٰلِكَ.

(دَ نیکئ اثر په مخ باندې دَ حُسن اودَ تازگئ وي، او په زړهٔ کښ رنړا وي، او په رزق کښ فراخي وي، او په بدن کښ طاقت وي، او خلق ورسره محبت ساتي. او گناه کښ ددې په ضد شان: ملاویږي-یعنی توروالې دَ مخ او تیارهٔ د زړهٔ او



تنگی دَ رزق او کمزوری دَ بدن او دَ خلقو په زړونو کښ ورسره نفرت).

٧ – **اووم** : زړهٔ او بدن کمزورې کوي، ځکه چه دَ مؤمن ایمانی طاقت په زړهٔ کښ وي، او کله چه زړهٔ طاقتور وي، نو بدن کار کوي، اوکله چه زړهٔ بزدل کمزورې وي. نو بدن کار نشي کولې. لکه د کافرانو څومره بدني او مالي طاقتونه وي. لیکن صحیح مؤمنانو ته نشي ټینگیدې، لکه د صحابه کرامو رضی الله عنهم واقعات مشهور دي.

٨ – **اتم** : دَ گناه دَ وجې نه انسان د ډیرو نیکیو نه محروم شي. چه هره نیکی د ټولې دنیانه بهتره وي. مثلاً سړې فلم ته لاړ شي، نو مونځ ترې قضا شي، او دَ ذکر نه غافله شي. دَ غلا چل زده کړي، دَ زنا چَل زده کړي. مال بې ځایه خرچ شي، وخت عبث تیر شي. دارنگه تهٔ په کښ فکر اوکړه چه څومره ضررونه دي ؟ انسان د خپلې خوشحالئ کوشش کوي، او حال دادې چه ځان هلاکوي.

٩ – **نهم** : گناه دَ عمر او دَ رزق دَ کموالي سبب دې. او نیکی دَ عمر او دَ رزق دَ ډیروالي سبب دې. لکه په حدیث د ابن ماجه کښ راځي : «عمر لره صرف نیکی زیاتوي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقدیر لره صرف دعا رد کوی »۔الحدیث۔

بیا دلته په ډیروالی د عمر کښ د علماؤ درے رائے دی:

بعضِ فرمائی: دَ عمر دَ ډیر والی نه مراد دَ خیر او برکت ډیروالے دے۔ یعنی عمر به لږ وی، اوفائدے اوطاعتونه به په کښ ډیروی۔

دویم دا چه: مراد دَ ډیر والی د عمر نه حقیقةً ډیروالے دے۔الله د هر شئ دپاره اسباب مقرر کړی وی، لکه د صحت، مرض، غِنیٰ، فقر دپاره ئے چه اسباب مقرر کړی دی۔

دریم قول دادے: چه اعلیٰ ژوند هغه دے چه د انسان زړهٔ په کښ دَ الله پاك سره تړلے وی۔ او د هغهٔ سره په کمال درجه کښ محبت وی۔ چه دَ هغه محبت په مقابله کښ هیڅ شے نهٔ غوره کوی۔نو کله چه انسان په معصیت او نافرمانئ کښ اخته شی، نو دے مړ دے، او عمرئے ختم دے۔ دے وجے نه کافرانو ته الله پاك مړی وئیلی دی۔

لنډه داشوه چه عمر دَ اِنسان دَ ژوند مُودے ته وائی۔ او ژوند هغه دے چه اِنسان پکښ د الله سره پوره محبت اوتعلق ساتی، او د هغهٔ رضا په هر شی غوره کوی۔ اود



گناه په وجه دا حال ختمیږی۔

۱۰ - **لسم**: د گناه نه گناه پیدا کیږی۔ بیا انسان ترے نهٔ شی وتلے۔ بعضِ علماؤ وئیلی دی چه:

إِنَّ مِنْ عُقُوْبَةِ السَّيِّئَةِ السَّيِّئَةُ بَعْدَهَا.

(د گناه یو عذاب دادے چه دَ بلے گناه توفیق اِنسان ته ملاویږی)۔

اونیکی ددے خلاف ده۔ تردے چه په بعضِ اِنسانانو کښ بیادا گناهونه کلك شی۔ کهٔ د نیکئ ځائے ته راشی۔ یا ورته څوك د دین خبره کوی، نو تنگ شی۔ او همدارنگه بعضِ نیکان خلق د گناه په ځائے کښ تنگیږی۔ لکه مَهے چه دَ اوبو نه لرے شی۔تردے چه بعضِ گناهونو کښ هیڅ خوند نهٔ وی۔ لیکن د هغهٔ زړهٔ په نیکئ تنگیږی، نو ځکه هغه گناه کوی۔ په بل شی ئے ساعت نهٔ تیریږی۔

۱۱ - **یولسم**: او دَ ویرے خبره خو داده چه د گناه په وجه دَ زړهٔ نه اِراده د توبے کمزورے کیږی۔ تردے چه هغه گناه ددهٔ عادت اوگرځی۔ نو بیا ورته هغه څهٔ گناه نهٔ ښکاری، هسے په خولهٔ به توبے ډیرے اوباسی، او زړهٔ کښ به ئے اِراده هم د هغه کار وی۔ کهٔ زنکدن راشی، نو هم توبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ اوباسی۔ او الله پاك بیا توفیق هم نهٔ ورکوی۔ وجه داده چه ګناهونه دَ مخکنیو خلقو میراث دی، مثلاً هلکانو ته راتلل دا میراث د قوم لوط دے۔ او ناپ تول کښې کمے کول دا میراث دَ قومِ شعیب دے۔ او فسادونه اولوئی کول دَ فرعونیانو میراث دے۔ او تکبر او تجبر کول دَ قومِ هود میراث دے۔ او همدارنګه نور واخله۔

اوپه دے ګناهونو هغویٔ الله هلاك کړی دی۔ نو کیدے شی چه الله هم دغه عذاب په دے نافرمان بنده راولی۔ ځکه چه دهٔ هم د هغویٔ جامے آغوستی دی۔

لکه په مسند احمد کښې دَ ابن دینار قول دے : چه « الله بعضِ نبیانو ته وحی اوکړه، چه خپل قوم ته اووایه چه زما د دشمنانو نو په ځائے کښې مهٔ داخلیږئ او دَ هغویٔ لباس مکوئ، او د هغویٔ پشان سورلی مکوئ۔ او د هغویٔ پشان خوراك مهٔ کوئ۔ کنی نو تاسو به هم زما دشمنان جوړ شئ »۔

بل حدیث کښې دا جمله راغلے ده :

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ.

« څوك چه دَ چاسره ځان مشابه کوی، هغه به دَ هغویٔ



سره وی په آخرت کښې »۔

(مسند احمد)۔

۱۲ - **دولسم** : دَ ګناه په وجه انسان د الله په نیز ذلیل اوسپك وی۔ او د الله د نظر دَ رحمت نه غورزیدلے وی۔

حسن بصریؒ یوه عجیبه خبره کړے ده :

هَانُوْا عَلَيْهِ فَعَصَوْهُ وَلَوْ عَزُّوْا عَلَيْهِ لَعَصَمَهُمْ.

(دا مجرمان په الله سپك دی، ځکه الله دَ نافرمانیٔ توفیق ورکړو۔ اوکچرته د الله په نیز عزت مند وے، نو الله به بچ کړی وے)۔

او کله چه یو انسان الله پاك سپك کړی، نو :

فَمَا لَهُ مِنْ مُّكْرِمٍ .

نو څوك به عزت ورکړی ؟ یعنی هیڅوك عزت ورکونکے بیا نشته۔ اګر کهٔ خلق ئے تعظیم او توقیر کوی دَ وجے د خوف دَ هغهٔ د شر نه۔ یا د څهٔ لالچ په وجه۔ لیکن کله چه هغه ختم شی یا دے غائب شی، نو بیائے دشمن وی، او زړهٔ کښې ئے سپك ګنړی۔

۱۳ - **دیارلسم** : بنده چه کله نافرمانی کوی نو ګناه بیا ورته سپکه او وَړه ښکاری۔ او کله چه اِنسان ګناه وَړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوګنړی، نو دے هلاك شئ۔ حديث کښ راځی : منافق ته
خپل ګناهونه داسے ښکاری لکه مچ په پوزه کينی، نو دے
ئے په اِشارے سره پاڅوی، هيڅ پرواه پرے نکوی۔

(رواه البخاری عن ابن مسعود رضی الله عنه)۔

**خوارلسم** : نور خلق او حيوانات ګنهګارته خيرے
کوی، ځکه چه هغوئ ته ددۀ په وجه نقصان رسی۔

ابو هريره رضی الله عنه فرمائی :

إِنَّ الْحُبَارٰى لَتَمُوْتُ فِىْ وَكْرِهَا مِنْ ظُلْمِ الظَّالِمِ.

(زانړی يا خړاړے په خپلو جالو کښ مری، دَ وجے دَ ګناه د
مجرم نه)۔

مجاهدؒ فرمائی : حيوانات په نافرمانو خلقو لعنتونه
وائی۔ ځکه چه قحطونه دَ انسانانو د ګناه په وجه راځی۔

عکرمهؓ فرمائی : دَ زمکے ځناور تردے چه ګونګټئ او
لړمانان وائی چه باران زمونږ نه بند شو په سبب د ګناه د
انسان۔ پس په ګنهګار باندے بے ګناه مخلوق لعنت وائی۔

۱۵ – **پنځلسم** : د ګناه نه ذلت پيدا کيږی۔ ځکه چه
عزت خو په طاعت دَ الله تعالیٰ کښ دے۔

قرآن پاك کښ راځی : فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا. (فاطر)۔



څوك چه عزت غواړی نو د الله په طاعت سره دے طلب
کړی ځکه چه عزت ټول د الله سره دے۔

بعض سلفو به داسے دعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اَعِزَّنِىْ بِطَاعَتِكَ وَلَا تُذِلَّنِىْ بِمَعْصِيَتِكَ.

اے الله! ستا د طاعت په وجه عزت راکړه، او ستا د
نافرمانئ په وجه مے مۀ ذليله کوه۔

دَ حسن بصریؒ يوه خبره هرسړی لره يادول پکار
دی۔ ډيره مزيداره ده۔

إِنَّهُمْ وَإِنْ طَقْطَقَتْ بِهِمُ الْبِغَالُ وَهَمْلَجَتْ بِهِمُ الْبَرَاذِيْنُ إِنَّ
ذُلَّ الْمَعْصِيَةِ فِىْ رِقَابِهِمْ اَبَى اللّٰهُ إِلَّا اَنْ يُّذِلَّ مَنْ عَصَاهُ.

(نافرمان خلق اګرکۀ دوئ په قچرو په مزه روان وی او په
ښۀ کره کره آسونو ناست وی، او هغه په تيزه روان وی، او
ځم ځم کوی، مګر دَ ګناه چه کوم ذلت دے، هغه د دوئ
څټونو پورے نختے دے، الله خامخا خپل نافرمان ذليله
کوی)۔

لکه اوس اوګورئ دا مالداره سرمايه دار خلق چه کله
نافرمان وی، نو څو مره بد شکله بد اخلاق ذليل وی۔ نو
کۀ غريب نافرمان وی، هغۀ ته خو بيا څوك ګوری هم نۀ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دے خبره ژوندی زړهٔ والا پو هیږی۔

ابن مبارکؒ یو څو ډیر ښکلی شعرونه وئیلی دی:

رَأَيْتُ الذُّنُوْبَ تُمِيْتُ الْقُلُوْبَ
وَقَدْ يُوْرِثُ الذُّلَّ إِدْمَانُهَا

ما ګناهونه اولیدل چه زړهٔ مړ کوی، او ذلت پیدا کوی همیشه والے دَ ګناهونو۔

وَتَرْكُ الذُّنُوْبِ حَيَاةُ الْقُلُوْبِ
وَخَيْرٌ لِنَفْسِكَ عِصْيَانُهَا

او دَ ګناهونو پریښودل زړهٔ ژوندے کوی، او د نفس دپاره غوره شے دَ نفس نهٔ منل دی۔

وَهَلْ أَفْسَدَ الدِّيْنَ إِلَّا الْمُلُوْكُ
وَأَحْبَارُ سُوْءٍ وَرُهْبَانُهَا

دین چه څو مره بادشاهانو او دنیا پرستو مُلایانو او عیش پرستو پیرانو خراب کړو۔ نو دومره بل چا نهٔ دے خراب کړے۔

۱۶ – **شپاړسم** : دا عصیان عقل هم خرابوی۔ ځکه چه عقل نور دے او ګناه تیارهٔ ده۔ نو بس نافرمان همیشه کم عقل وی۔ بے ځایه خبرے بے ځایه کارونه کوی۔



۱۷ – **اولسم** : دا وجه دَ مخکنئ وجے بیان دے :

علماؤ وئیلی دی، کوم انسان چه نافرمانی او عصیان کوی، نو دهغهٔ عقل ختم وی۔ ځکه چه کهٔ انسان فکر اوکړی، چه زهٔ خو الله پیدا کړے یم، د طاعت دپاره۔ او د هغهٔ په قبضه کښې یم۔ او هغه په ما خبر دے۔ او زهٔ دَ هغهٔ په کور کښې اوسیږم۔ او ملائکے راته ګوری۔ او قرآن مے منع کوی۔ او ایمان مے منع کوی۔ د مرګ واعظ موجود دے او اور د جهنم شته، او دا فکر ورسره اوکړی چه د ګناه په وجه د سړی نه په دے لږغوندے خوند باندے د دنیا اود آخرت ډیرے فائدے خرابے شی۔ نو بیا به چرته ګناه ته وړاندے نشی۔ اوکهٔ وړاندے کیږی سره ددے موانعو نه، نو هغه بے عقله او جاهل دے۔

۱۸ – **اتلسم** : د ګناه په وجه په زړهٔ زنګ راځی۔ لکه حدیث کښې راځی چه زړهٔ زنګین کیږی لکه وُسپنه۔

(الحدیث، مشکوة).

پس دَ زنګ نه پس بیا پرے طبع (ټاپه) راشی، بیا پرے نفل (جرنده) راشی۔ بیا پرے ختم (مهر) اوو هلے شی۔ نو بیا به ورته څوك هدایت اوکړی؟ دا پنځه واړه خبرے په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن کښې شته دے۔

۱۹ – **نولسم** : ما د خپل محبوب او متقي استاذ الشيخ عبد السلام (الله پاك دے د هغۀ دنيا او آخرت روښانه کړي، او مونږ او هغه دِے الله په جنت کښې يو ځائے کړي، آمين) نه دَ مشكوٰة په درس کښې آوريدلي وو چه په قرآن او حديث کښې الله او رسول (ﷺ) په څۀ کارونو لعنتونه فرمائيلي دي۔ كۀ سرے هغه راجمع کړي، نو پوره كتاب پرے ليكلے كيږي۔ نو زما زړۀ كښې دَ هغۀ خبره وه. نو كله چه الله پاك ددے رسالے د ليكلو توفيق راكړو، نو هغه خبره د خپل محبوب استاذ رايادة شوه۔

په حديث کښې په خال لګونکي او څوك چه دَ هغے طلب كوي، او همدارنګه په هغه ښځه چه په خپل سر كښې پردي ويختۀ لګوي، او په هغه ښځه چه هغه ئے ورله لګوي، او په هغه ښځه چه دَ خپلو وروځو نه ويښتۀ اوباسي، او په هغه ښځه چه په سو هان سره خپل غاښونه نري كوي، او په هغه ښځه چه دے له د زينت دپاره ويښتانه تيرۀ كولے شي۔ په دے ټولو باندے د الله او د رسول (ﷺ) لعنت دے۔



دغه شان په سود خور او په هغه چا چه په بل د سود مال خوروي، او ددے په ليكونكي او ددے په ګواه باندے لعنت وئيلے شوے۔ دارنګه په مُحَلِّل او مُحَلَّلٌ لَهٗ باندے لعنت راغلے۔ مُحلِل هغه چاته وائي چه طلاقه شوے ښځه يوه شپے دپاره په نكاح واخلي۔ او وعده اوكړي چه سَحر به ئے طلاقوم۔ دے دپاره چه اولني خاوند ته حلاله شي۔ نو دۀ ته مُحلِل وائي۔ او اولني خاوند ته مُحلَل لَهٗ وائي۔

اودغه شان په غلۀ سړي باندے لعنت راغلے دے۔ او په شراب خور او په وركونكي باندے او په نچوړونكي باندے او په خرڅوونكي او اخستونكي او دَ هغے پيسے خوړونكي باندے او په باروُونكي او په هغه چا باندے چاكره چه دا شراب اوړلے شي، په دے ټولو باندے لعنت وئيلے شوے۔

دارنګه حديث كښې لعنت په هغه چا راغلے چه د زمكے نښانے ورانوي، او د هغے حدود او پُلے خرابوي۔ او څوك چه په مور پلار لعنت وائي۔ او لعنتي دے هغه كس چه د ژوندي حيوان نه ننبه جوړه كړي۔ اوبيائے وُلي۔ او په هغه سړي لعنت دے چه ځان د ښځو سره مشابه كوي په لباس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رفتار گفتار وغیره کښې۔

او دغه شان په هغه ښځه باندې لعنت دې چه هغه د سړو سره ځان مشابه کوي په لباس، رفتن خفتن گفتن وغیره کښې۔ او هغه څوك لعنتي دې چه دَ الله نه سیوا دَ بل چا په نوم ذبح اوکړي۔ لکه خلق پیر بابا وغیره ته گډان بوزي، د هغې خوراك حرام دې۔ کهٔ چا داسې کار اوکړو، نو هغه مُشرك دې۔ د علماؤ نه ددې تحقیق اوکړئ۔

او په بدعتي سړي باندې لعنت راغلې، او په هغه چا چه بدعتي ته ځائے ورکوي په کور یا مسجد یا په یو مجلس کښې۔ اَعَاذَنَا اللهُ مِنهُ۔

او په تصویرونو والو باندې لعنت دې، کهٔ جُثه لري اوکهٔ نهٔ لري۔ دا مصیبت خو اوس دومره زیات شوې چه هیڅ حد ئې نشته۔ دا لا څهٔ کوې، د بربنډو ښځو فتوان هم پکښې شته۔ الله دِې مونږ د داسې خلقو نه زر زر جدا کړي۔ آمین ! او په هغه کس لعنت دې چه د قومِ لوط عمل کوي، او څوك چه مور پلار ته کنځل کوي، او څوك چه د ړوند سړي نه لار غلطوي۔ همدارنګه د ناپوهه سړي نه صحیح دین پټوي۔



او څوك چه حیواناتو سره بد فعلي کوي۔ او څوك چه حیوانات په مخ باندې داغي۔ او څوك چه مسلمان ته ضرر ورکوي، یا پرې څهٔ مکر او دهوکه کوي۔ او په هغه ښځو لعنت دې چه زیارتونو له ځي، او هغه کسان چه په مقبره کښې جوماتونه جوړوي۔ او هغه کسان چه په قبرونو شمعې ډیوې بلوي۔ او هغه څوك چه د ښځې او د خاوند ترمینځ بے اتفاقي پیدا کوي۔ دغه شان د غلام او دَ مالك ترمینځه تعلق خرابوي۔

او هغه څوك چه ښځې سره په شا طرف کښې کور والې کوي۔ یعني په دُبر کښې ورسره جماع کوي۔ او هغه ښځه چه خاوند ورته اووائي چه ماسره یو ځائې سمله، او هغه جدا شپه تیره کړي تر سَحَره ملائك پرې لعنت وائي۔

او څوك چه بل ته خپل نسبت کوي سیوا د پلار خپل نه۔ یعني پلار ئې یَو وي او نسبت بل ته کوي چه زهٔ د فلاني څوئے یم۔ لکه دا صاحبِ منصب والا خلق داسې کوي۔ او څوك چه مسلمان ته وسله خوزوي یعني اشارې ورته پرې کوي۔

او څوك چه صحابه کرامو – رضي الله عنهم اجمعین –

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسے خبرے کوی۔ لکه بعضِ ظالمان د عثمان رضی الله عنه او دَ معاویه رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو سره بغض لری۔ او طعنونه پرے وائی۔ لکه شیعه گان او رافضیان خلق شو۔

او همدارنگه رشوت خورونکی او ورکونکی او څوك چه ددے وکالت کوی، دا ټول لعنتیان دی۔

د الله تعالیٰ لعنت او دَ ملائکو لعنت دے په دوئ باندے۔

(رواه البخاری ومسلم والنسائی وأبوداود والترمذی ومالك والدارمی وابن ماجه وغیرهم).

او قرآن کریم کښې الله تعالیٰ په مفسد سړی او صله رحمی قطع کونکی باندے لعنت وئیلے دے۔ دارنگه څوك چه الله او رسول ته ضرر ورکوی، او چه حق پټوی، او د پاکدامنو ښځو پسے خبرے کوی۔ او څوك چه د کافرو دین او طریقے او اخلاقو ته ښهٔ وائی دَ مؤمنانو د دین او دَ طریقے نه۔ (سورة احزاب، البقرة، النساء، النور).

۲۰ - **شلم** : دَ ګناه په وجه انسان د نیکانو خصوصاً دَ نبی کریم ﷺ او دَ ملائکو دَ دُعاء نه محرومیږی۔ څکه چه مانځه کښې مونږ وایو۔ وَعَلٰی عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِیْنَ.



او دَ الله په نیکانو بندګانو دِے سلام او رحمت وی۔

او دَ سورت مؤمن په آیت نمبر (۶، ۷، ۹) کښې راغی چه ملائك دعا غواړی، نیکانو توبه ویستونکو دپاره۔

۲۱ - **یویشتم** : بخاری شریف کښې یو اوږد حدیث راغلے خو زهٔ د هغے نه مختصرے جملے راخلم۔

نبی ﷺ فرمائی: « زهٔ په خوب کښې ملائکو آسمان ته بوتلم۔ نو هلته یو سړے پروت وو۔ او بل سړی به لوئے کاڼے را واخستهٔ، او دا سر به ئے ورله ذره ذره کړو، بیا به جوړ شو، بیا به ئے داسے اوکړو۔ دا سړے قرآن والا وو، چه هغه ئے زده کړے وو، او بیائے نهٔ راخستهٔ۔ او فرض مونځ به ئے هم نهٔ کولو۔

بیائے بل سړے اولیدهٔ چه خولهٔ ئے تر غوږونو پورے څیرلے شوه۔ دغه شان سپیږمے او سترګے ئے تر څټه پورے څیرلے شوے۔ بیا به جوړے شوے۔ دا عذاب تر قیامته پورے جاری وو۔ دا دروغژن سړے وو۔

او بیائے په تنور کښې بربنډ سړی او ښځے اولیدل چه اور سیزلی وو۔ چغے ئے وهلے۔ دا زنا کار خلق وو۔

بیائے یو سړے اولیدهٔ چه د وینے پشان سور نهر کښې ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامبو وهله. کله به چه غاړے ته راغلو، نو بل سړی به په خولهٔ په کانړی ویشتهٔ خولهٔ به ئے ورله د کانړو ډکه کړه، بیابه واپس شهٔ. دا سود خور وو» . الحدیث.

۲۲ – **دوه یشتم** : د ګناهونو په وجه زمکه کښ قِسما قِسم فسادونه پیدا کیږی په اوبو کښ، هواء کانو کښ، میوو کښ. قرآن کریم کښ دی :

﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا کَسَبَتْ اَیْدِی النَّاسِ ﴾.

(په اوچه او په دریاب کښ دَ خلقو دَ ګناهونو په وجه فساد ښکاره شوے).

د ګناه په وجه زلزلے راځی، او خسف (په زمکه ننوتل) راځی، اومَسُخ (شکل ورانیدل) راځی، لکه په ثمودیانو او بنی اسرائیلو باندے الله راوستی وو.

مسند احمد کښ یوه خبره نقل شوے ده چه د بنی امیه په خزانو کښ دَ غنم دانه راوتے وه چه د کهجورے د هډوکی هومره غټه وه. او په کاغذ کښ ورسره دا لیکل شوی وو چه داسے غنم به دَ عدل په زمانه کښ کیدل.

۲۳ – **دریشتم** : بعضِ عذابونه د ګناه دادی چه د انسان د زړهٔ نه جوش د غیرت اوځی. او غیرت خو ډیر



اوچت او ضروری شے دے. دے وجے نه بهتر سړے هغه دے چه ډیر غیرتی وی. نافرمان غیرتی نشی کیدے. لکه اوګورئ دا مالدار خلق چه ښځے او لونړه ئے په بازارونو او په چمندونو کښ بے پردے ګرځی. کور کښ ئے ورته تی وی لګیدلے وی. پردی بے حیاء او بربنډ سړی پکښ راځی.

او بعضِ خلق خپلے ښځے فلمونو ته هم ورولی چه هلته ډیر غلط کارونه کیږی چه د هغے د بیان دا ځائے نهٔ دے. اوس خو هر کور کښ ډشونه لګیدلی دی او دَ هریو کور نه سینما جوړه شوے ده.

غرض دا چه دَ ګناه په وجه دَ انسان نه حیاء او غیرت ځی، دے وجے نه رسول الله ﷺ د ټولو نه زیات غیرتی وو. او الله د ټول مخلوق نه زیات غیرتی دے. دے وجے نه ئے فواحش او بدکارونه حرام کړی دی.

لیکن غیرت په دوه قِسمه دے : بعضِ محبوب او بعضِ مبغوض وی.

هغه چه الله ته خوښ نهٔ دے. هغه غیرت کول دی په غیر دَ ځهٔ شك نه په بل چا. (مشکوٰة).

مقصد دا شهٔ چه ګناهونه ډیرشی، نو غیرت په اهل او ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولاد او په عامو خلقو باندے ختم شي۔ بيا هغه ناروا چه ددۀ ښځه ئے کوی، سرتور سر بازار ته ځی، دے ورته ځاننا وائی۔ داسے مقام ته چه انسان اورسيږی، نو هغه هلاکت ته اورسيدۀ۔

دا لا څۀ کوے، بعضِ خلق ناروا ظلم فواحش نورونه ښائسته کوی۔ او حکم ورته کوی، چه داسے اوکړه۔

حديث کښې څکه فرمائی : چه دَيُوث سړے به جنت ته نۀ ځی۔ نو معلومه شوه چه دين په اصل کښې ټول غيرت دے۔ چا کښې چه غيرت نۀ وی، نو هغه بے دينه دے۔ غيرت دَ زړۀ حفاظت کوی، نو اندامونه خپله محفوظ شی دټولو ناروااوو نه۔

۲٤ – **څلیرشتم** : د گناه په وجه حياء ختميږی۔ چه دا دَ زړۀ غذا او دَ هر خير جرړه ده۔ حديث کښې راځی :

اَلْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ.

حياء ټول خير خير دے۔

بل حديث کښې راځی : چه د ټولو پيغمبرانو نه دا حديث خلقو ياد کړے دے چه :

اِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَاشِئْتَ.



کله چه حياء در کښې نۀ وی نو کوم چه څۀ دے خوښه وی۔

نو کله چه انسان بے حياء شي نو کۀ خلق ددۀ په بد عمل خبرشی، دے نۀ خفه کيږی۔ بلکه خلقو ته په خپله حالونه بيانوی چه ما داسے اوکړل۔ پس بے حيا سړے مړے او تباه دے۔

۲۵ – لوئے ضرر د گناه دادے چه د الله عظمت ددۀ په زړۀ کښې کمَوی۔ کۀ ددۀ خوښه وی اوکۀ نه۔ کۀ د الله عظمت او وقار زړۀ ته راشی، نو هغه به چرے هم د الله پاك مخالفت نکوی۔

۲٦ – دَ گنهگار مهابت، عظمت، الله تعالیٰ د خلقو د زړونو نه اوباسی، په خلقو سپك شی، توقے وروپورے کوی۔ دا ياد لره چه څومره څومره دَ الله تعظيم کوی دومره به خلق ددۀ تعظيم کوی۔ څومره چه الله نه يِره کوی، دومره به ددۀ نه خلق يريږی۔ څومره چه د الله سره مينه لری، دومره به ددۀ سره خلق مينه کوی۔

دا نشی کيدے چه دے دِے د الله حقوق، تعظيم او اوامر اونواهی ضائع کوی۔ او دے دِے خلقو ته ښۀ ښکاری۔ كَلَّا وَحَاشَا۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ وَمَنْ يُهِنِ اللهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُّكْرِمٍ ﴾. (الحج : ۱۸).

(چالره چه الله سپك كړی، هغهٔ لره څوك عزت وركونكے نشته)۔

۲۷ - دَ نافرمانئ په وجه الله انسان پرېږدی، او يروی ئې۔ لكه قرآن كريم كښې راځی :

﴿ وَلا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللهَ فَاَنْسَاهُمْ اَنْفُسَهُمْ اُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ ﴾. الحشر : ۱۸، ۱۹.

(اے ايمان والو ! د الله نه ويره كوئ او د هغه كسانو په شان مۀ كيږئ چه الله ئے هير كړے دے، پس الله د دوئ نه خپل نفسونه هيركړل)۔

يعنی خپل ځان له به څۀ فائده ورنكړی۔

نو هر گنهگار خپل ځان او خپل وخت مهمل كونكے دے۔ د الله د ذكر نه غافل وی، او په ناروا ووئے سر وی۔ د آخرت فائده ئے هم اونۀ كړه او د دنيا هم۔

۲۸ - لوئے مصيبت دادے چه انسان ځان هير كړی، او دَ آخرت څۀ برخه او حصه وانخلی۔ او الله ترے پاتے شی۔ او نور څۀ واخلی۔

مِنْ كُلِّ شَيْءٍ اِذَا ضَيَّعْتَهُ عِوَضٌ



وَمَا مِنَ اللهِ اِنْ ضَيَّعْتَهُ عِوَضٌ

د هر شئ د ختميدو روستو څۀ بدل وی۔ ليكن كۀ الله نرے نه لاړو، او تعلق ورسره قائم نۀ شۀ، نو هيڅ عوض او بدل د الله نشته چه څۀ به درله اوكړی۔

۲۹ - گناه سړے د دائرے دَ احسان نه خارجوی۔

دَ احسان معنیٰ ده : اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ.

د الله عبادت كول په داسے طريقه گويا تۀ الله وينے، او يا داچه دا گمان اوكړے چه الله تعالیٰ ماته گوری۔

نو كله چه دا يقين جوړ شی چه الله مخامخ دے زۀ ورته گورم۔ او هغه ماته گوری۔ چرے به بيا گناه ته نزدے نشی۔ ليكن گناهونه چه كله ډير شی، نو د انسان دا فكر ختم شی چه گنے الله ماته گوری، غافل شی۔ نو د محسنينو چه كومه درجه اوثواب دے هغه د دۀ نه ضائع شی۔

۳۰ - بل د گناهونو اثر دادے چه زړۀ دَ سَيرِ اِلَی اللهِ نه منع كوی۔ ځكه چه زړۀ چه مزل كوی په طاقت خپل سره كوی۔ او گناه د زړۀ طاقت يا بيخی ختموی يا زړۀ مريض كوی۔ نو په دواړو صورتونو كښې الله ته نشی رسيدے۔ بلكه دۀ ته هم حُزن، عجز، كسل، بزدلی، بخل، قرضدارے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدل راشي۔ او ددے صفاتو نه نبي ﷺ پناه غوښتلے ده۔

۳۱ – ګناهونه نعمتونه ختموي۔ او عذابونه نازلوي۔

لکه علي رضی الله عنه فرمائي :

مَا نَزَلَ بَلَاءٌ اِلَّا بِذَنْبٍ وَلَا رُفِعَ اِلَّا بِتَوْبَةٍ.

( مصیبت نهٔ راځي مګر د ګناه په وجه، او نهٔ پورته کیږي مګر په توبے سره)۔

قرآن کریم کښې راځي چه کوم مصیبت تاسو ته اورسیږي، دا ستاسو د ګناه د وجے نه دے۔

یو شعر کښې راځي :

إِذَا كُنْتَ فِيْ نِعْمَةٍ فَارْعَهَا ۝ فَإِنَّ الذُّنُوْبَ تُزِيْلُ النِّعَمْ

(کله چه یو نعمت تاسره وي، نو دَ هغے خیال ساته (یا دَ هغے نه یریږه) ځکه چه ګناهونه نعمتونه ختموي)۔

وَحُطْهَا بِطَاعَةِ رَبِّ الْعِبَادِ ۝ فَرَبُّ الْعِبَادِ سَرِيْعُ النِّقَمْ

(لرے کړه په طاعت د الله سره ګناهونه، ځکه چه الله ډیر جلت بدله اخستونکے دے)۔

۳۲ – دَ ګناهونو په وجه الله د سړي په زړهٔ کښې رُعب او یره اچوي، نو همیشه یریږي۔

الله پاك ددے په سبب وحشت په زړهٔ کښې اچوي۔ د خلقو



نه لرے، د الله نه لرے، د خپل نفس نه تنګ۔ دا ډیر سخت حالت وي۔ خو هغه څوك پو هیږي چه ژوندے وي۔ د وحشت اصلي سبب غفلت عَنِ الله دے۔ د هغے نه روستو یا پرده پیدا شي۔ پس بیا سړے په شرك یا كفر وغیره کښې اخته شي۔ اَعَاذَنَا اللهُ مِنْ ذٰلِكَ.

۲٤ - ګناهونه زړهٔ بیماروي او د صحت نه ئے اوباسي مرض طرفته۔ پس همیشه مریض وي۔ هیڅ غذا ورته فائده نهٔ ورکوي۔ پس د زړهٔ مرض نهٔ پیدا کیږي مګر د ګناه د وجے نه۔ پس زړهٔ نهٔ جوړیږي مګر په پریخودلو د ګناهونو سره۔ ځکه چه سَائِرُوْنَ اِلَی الله (الله ته تلونکی خلق) وائي چه زړونه خپل مقصد ته نهٔ رسیږي مګر په تعلق بالله سره۔ او الله سره تعلق نشي کیدے، مګر چه کله جوړ وي۔ او جوړیدے نشي مګر په ترك د ګناهونو سره۔ او د خواهش نه په خلاف کولو سره۔

پس دنیا کښې چه انسان ځان د خواهش نه بچ کړي، نو د هغهٔ قبر او دُنیا او آخرت ټول ښهٔ شو۔ لکه چه قرآن کریم فرمائي :

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَالَ ابْنُ الْقَيِّمِ : فِي الدُّنْيَا وَالْبَرْزَخِ وَالْحَشْرِ.

(نیکان خلق به په نعمتونو کښې وي. ابن قیمؒ فرمائي: په دنیا او په قبر او په حشر تولو کښې به په نعمتونو کښې وي).

لکه د علماؤ او نیکانو خلقو نه نقل دي چه کۀ جنتیان په داسې خوشحالۍ کښې وي لکه زۀ چه خوشحاله یم، نو دوئ خو به په ډیرو مزو کښې وي.

او بعضِ وائي : کۀ دې بادشاهانو او وزیرانو ته زمونږ د حال پته اولګي، نو په تورو سره به ئې مونږ سره جنګ کړے وے په هغې.

او همدارنګه په دنیا کښې جنت ته څوك لاړ نشۀ، نو هغه آخرت هم کښې جنت ته نشي تلے.

حاصل دا چه : په ګناهونو سره بیماري او غم راځي. او په طاعت سره صحت اوشحالي راځي.

۳۵ – د ګناهونو په وجه بصیرتِ قلبي ختمیږي. او لارے د علم بندیږي. او د هدایت چه کومے لارے او مواد دي هغه ختمیږي. دے وجے نه امام مالكؒ امام شافعيؒ ته اوفرمائیل : په تا باندے الله تعالیٰ یو نور اچولے دے، نو د



ګناهونو په ظلمت سره ئے مۀ مړ کوه.

او نورِ قلبي رو رو ختمیږي، تردے چه زړۀ تلك تور شي. نو زړۀ تیارۀ، قبر تیارۀ ، حشر کښې تیارۀ.

۳۶ - او بعضِ د عقوباتو د ګناهونو نه دا هم ده چه بدئ سره نفس د انسان سپکیږي، وَړیږي. لکه په طاعت سره غټیږي او لوئیږي. لکه الله تعالیٰ فرمائي :

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا.

(کامیاب دے هغه کس چه خپل نفس ئے پاك کړو. او عظمت ئے ورکړو په اطاعت د الله. او تاواني دے هغه کس چه ځان ئے سپك کړو او پټ ئے کړو په معصیت د الله سره).

پس طاعت نفس غټوي او مشرف کوي. او معصیت نفس سپکوي او ذلیل کوي ئے.

۳۷ – دَ ګناه په وجه انسان په قید د شیطان کښې وي او د خواهشاتو کښې وي. پس دا همیشه جیلي وي، او دا طریقه ده چه کوم سړے سخت دشمن ګیر کړي نو هغه ډیر خفه وي. او د خواهش قید ډیر تنګ وي. او د شهوت قید ډیر سخت وي. الله ته سړے نۀ پریږدي. د قیامت تیارئ ته ئے نۀ پریږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا یاد لره چه کله زړهٔ قیدی شی، نو مختلف آفتونه ورتـه راځـی. ځـکـه چـه د زړهٔ مثـال دَ مـارغـهٔ پشان دے. څـو مره چه بره ځی، نو هو مره محفوظ وی. او څومره چه ښکتـه کیږی، هـو مره پـه آفتـونو کښ ګیریږی. حدیث کښ راځی.

اَلشَّيْطَانُ ذِئْبُ الْاِنْسَانِ.

(شیطان د انسان شرمخ دے).

یـعـنـی لـکـه یوه ګله وی مثلاً، او د هغے څوك شپونکے ساتونکے نهٔ وی، نو شرمخ ئے ماتوی.

دارنګه کوم زړهٔ چه د الله په حفاظت کښ نهٔ وی، نو هغه شیطان تباه کوی. او الله ئے په تقویٰ سره حفاظت کوی.

خلاصه دا چه څو مره زړهٔ نزدے وی الله ته، هغه به بچ وی. او څومره چه لرے وی هغه به مصیبت زده وی.

**او د لرے والی** ډیرے مرتبے دی.

اول : غفلت.

بیا معصیت.

بیا بدعت.

بیا منافقت.



بیا دَ الله سره شراکت. او دا دے سبب دَ هلاکت.

الله دے مونږ په خپل قدرت سره بچ کړی.

۳۸ - معصیت (نافرمانی) دَ قدر، عزت او کرامت دَ ساقطیدو سبب دے. ځکه چه الله ته اکرم الخلق متقیان دی. لکه په قرآن کریم کښ راځی. بس تقویٰ سبب دَ رفعتِ ذکر او د کرامت ده. لکه الله د انبیاؤ ذکر اوچت کړے دے. قرآن کریم کښ سورتِ انشراح کښ اوصفت کښ راځی. نو څوك چه د هغوئ تابع وی، الله به ئے په خلقو کښ اوچت او مشهور کړی په ښهٔ صفت سره.

۳۹ - ګناه د سړی نه ښهٔ نومونه سلب کوی.

مثلاً اوسه پورے به ورته مؤمن، متقی، نیك، عابد، صالح، پاك رجوع والا وئیلے کیدهٔ. اوس به ورته کافر، مشرك، ظالم، غل، زناکار، لوطی، قاتل، مفسد، خبیث وئیلے کیږی. نو انسان له ښهٔ نومونه حاصلول پکار دی.

۴۰ - ګناه عقل کموی. لکه الله په قرآن کښ «اے د عقل خاوندانو» سره خطاب کوی. او د اڅومره بے عقلی دهٔ چه انسان د هغه الله نه نافرمانی کوی. کوم چه خالق، رازق، متصرف، بصیر، علیم، قهار ذات دے. او د جنت دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزو او خوشحالو نه ځان محروموی. دا ځومره ډیره بے عقلی ده، دا دَ گناه په وجه پیدا شوه.

۴۱ - بعضِ د عقوباتو د معاصیو نه دادی چه مخلوق په دے انسان زړوَریږی. لکه د شیطان ورته د گمراه کولو اراده اوشی. او کور والا، ښځه، بچی، خادمان او گاونډیان هم پرے زړوَر شی. هر ځوك هر قِسم خبرے ورته کوی. او همدارنگ مشران د حکومت والا ورته هر قِسم تکلیفونه ورکوی. دغه شان نفس پرے زوره ورشی، گناه طرفته ئے راکاږی، نیکئ ته ئے نۀ پریږدی. بس دا چه ځومره په گناه زړوَر وی، هغومره به پرے دا کسان زړوَر وی.

۴۲ - انسان سره نفس خیانت کوی. ولے کله چه سړے په گناهونو کښ سخت شی. نو د آخرت د تیاریٔ دپاره اراده د انسان د زړۀ نه خارج شی. او دا د هلاکت سبب دے. لکه الله فرمائی: چه « مۀ کیږئ د هغه کسانو پشان چه الله تعالیٰ ئے هیر کړے دے، نو دَ خپل ځانونو فائده هم الله د دوئ نه هیره کړه ». (سورت حشر).

نو بس بیا ورته الله په خاتمه کښ هم توفیق نۀ ورکوی. او د بدے خاتمے دپاره علامات علماؤ خودلی دی. یو



بدعت او بل معصیت. او په گناهونو همیش والے، د یتیم مال خوړل. دَ بدے خاتمے نه نۀ یریدل.

لکه ابوالدرداء رضی الله عنه فرمائی: ځوك چه د بدے خاتمے نه نۀ یریږی. نو د هغے عذاب دادے چه الله ورله خاتمه خرابوی. (اعاذنا الله منه).

۴۳ - گناه زړۀ ړندوی.

۴۴ - گناه د انسان دُشمن سره امداد کوی.

۴۵ - نعمتونه زائله کوی، او مصیبتونه راولی.

۴۶ - گناه دوستان لرے کوی. لکه ملائك لرے کیږی.

لکه حدیث کښ راغلی دی چه ځوك دروغ اووائی نو ملائك ترے یو میل وړاندے شی.

دا ټول خو عقوباتِ عقلیه دی.

او **عقوباتِ شرعیه** هم د گناه په وجه پیدا کیږی. لکه لاس پریکول، رجم، کوړے ورکول، قصاص وغیره هم د گناه په وجه وی.

بس مقصد دادے چه د ټولو معاصیو او گناهونو نه په کوشش سره ځان بچ کول ضروری دی. فقط.

په **آخر** کښ دا خبره یادول پکار دی چه شرك دَ ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



گناهونو اصل او جرړه ده. کۀ شرك فی العبادة وی، اوکۀ فی الدعاء وی، اوکۀ شرك فی التصرفات وی، اوکۀ شرك فی العلم وی. اوکۀ فعلی وی، اوکۀ اعتقادی وی. داتول الله نۀ بخښی.

قرآن فرمائیلی دی، د مشرك ذات پلیت دے، نو هغه په اور نۀ پاکیږی. نو ځکه به همیشه په اور کښ وی.

## د گناهونو پیدا کیدو څلور اسباب

پوهه شه :

چه گناهونه اکثر د څلورو شیانو نه پیدا کیږی.

١ – اللحظات، یعنی کتل.

٢ – الخطرات. یعنی سوچونه.

٣ – اللفظات. یعنی خبرے.

٤ – الخطوات. یعنی قدم اخستل.

**اللحظات :**

بے ځائے نظر استعمالول : نو پردو محرماتو ته کتل قرآن او حدیث منع کړی دی. او د هغے ضررونه ئے هم بیان کړی دی. لکه نظر د شیطان د غشو نه یو غشے دے زړۀ وژنی.



سند احمد).

دے نه زنا پیداکیږی، پردے حق ضائع کیږی. زړۀ مریض کیږی. حدیث کښ راځی. « چا چه پردو محرماتو ته نظر اونۀ کړو دَ الله د ویرے نه، نو الله پاکه به ورته د ایمان خوند ورنصیب کړی ».

دا څومره لویه خبره ده، کۀ څوك پو هیږی.

اوکۀ سړے نظر اونۀ کړی محرماتو ته، نو په قرآن پاك به عمل راشی، اوکۀ سړے مِطلاق النظر شی، نظر کهلاؤ کړی هر چاته، نو د دائرے د متقیانو نه خارجیږی. او دا څومره د عذاب خبره ده. ځکه چه د جنت وعده د متقیانو سره شوے ده، (مریم : ٦٣).

دے باره کښ بښۀ کتاب دَ (بدئ نظرئ علاج) په نوم یو کتاب دے هغه اوگورئ.

**الخطرات :**

یعنی زړۀ کښ خرابی راوستل. بس دا د گناهونو یوه جرړه ده. دے نه ارادے اوقصدونه دَ گناه پیدا کیږی. پس فکر څلور قسمه وی. یو په فائده د دنیا کښ. دویم په دفع د ضرر دنیوی کښ. دریم په فوائدو دَ آخرت کښ. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم په دفع د ضرر دَ آخرت کښ.

پس انسان له پکار دی چه هغه فکر مخکښ کړی، چه په هغے کښ فائده ډیره وی، او بیائے وخت ختمیږی او ضروری وی. او خصوصًا په قرآن او حدیث کښ او په دلائلو د الله پاك کښ ډیر فکر پکار دے.

**اللفظات :**

دَ خولے حفاظت ډیر ضروری دے، بس دا هم د جهنم سبب دے. لکه ما په دے یوه رساله لیکلے ده په عربئ ژبه کښ ده.

حدیث کښ راځی چه د انسان ایمان نهٔ جوړیږی تر څو چه زړهٔ نهٔ وی جوړ شوے. او زړهٔ نهٔ جوړیږی تر څو چه ژبه نهٔ وی جوړه شوے.

بل حدیث کښ راځی : انسان د فرج او د خولے په وجه اکثر اورته ځی. او د حُسنِ خلق او د تقویٰ په وجه انسان جنت ته ځی.

لنډه دا چه : دے باره کښ د وعید احادیث راغلی دی، چه سړے ئے واوری نو زړهٔ وایم چه ډیر به خفه شی.

**الخطوات :**



بے ځایه، بے فائدے گرځیدل. انسان چه چرته ځی، نو مخکښ دِے نیت کوی چه فلانی ځائے ته ځم څهٔ دپاره ؟ ځکه چه حدیث کښ راځی چه انسان ته نجات د درے شیانو په وجه ملاویږی. (۱) دَ ژبے د حفاظت په وجه (۲) په کور کښ په کیناستلو (۳) او په گناه باندے دَ ژړلو په وجه.

نو دا خبره معلومه شوه چه انسان د مصیبت او تکلیفونو نه په څهٔ بچ کیږی ؟ او د څهٔ په وجه په کښ واقع کیږی ؟

الله تعالیٰ دے مونږ ته دَ هر قِسم مصیبت نه نجات راکړی، اول د دُنیا د مصیبتونو نه، او بیا دَ آخرت د ټولو مصیبتونو نه. آمین ۔

**علامه ابن القیم** رحمه الله په زاد المعاد کښ د مصیبت یو څو علاجونه فرمائیلی دی، هغه دا چه کله مصیبت راشی، نو :

اول کلمهٔ استرجاع یعنی دا کلمه وئیل پکار دی : اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ.

په دے کښ ډیرے فائدے دی.

دویم دا چه : انسان دے دا فکر کوی چه زهٔ خو دَ الله تعالیٰ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرئیے او غلام یم۔ او زما ټول واړۀ، بال بچ د الله دی، او د هغۀ مال دے۔ او مالك په خپل مال کښې تصرف کوی۔

دریم دا چه: د آخرت او د هغے مصیبتونه رایادول پکار دی، نو دا به ورته آسانیږی۔

څلورم دا چه: فکر دے اوکړی چه کۀ زۀ جزع فزع اوکړم، نو هیڅ به اونشی، او الله پاك به ناراضه شی۔

پنځمه دا چه دا فکر دے اوکړی، کۀ زۀ بے صبری اوکړم، نو دشمنان شیطانان به خوشحاله شی۔ نو د هغوئ خوشحالول نۀ دی پکار۔

اووم، په دے کښې دے فکر اوکړی چه په دے مصیبت څومره ثوابونه ملاویږی۔ چرته هغه رانه فوت نشی په سبب د بے صبرئ۔

اتم دا چه: دا فکر دے اوکړی، په حدیث کښې دی چه «څوك په مصیبت راضی شی، نو الله ترے راضی کیږی۔ او څوك چه نۀ راضی کیږی، نو د هغۀ نه الله پاك نۀ راضی کیږی»۔

بل دا چه زۀ صبر اونۀ کړم، نو اول آخر به ئے کوم، مجبوره به شم صبر ته۔ نو د اول سر نه ولے صبر اونۀ



کړم، چه د متقیانو په ډله کښې حساب شم۔ فقط۔

**خبردارے:** دَ مصیبتونو دَ علاج، دَ گناهونو د ضررونو، دَ تعلق مع الله، دَ زړونو دَ صفائی او دَ تزکیة النفس په عنوان باندے زمونږ یو کتاب دے چه دَ هغے نوم دے: **الفوائد** – دوه جلده (عربی، پښتو، اردو) دَ هغے مطالعه کول پکار دی۔ په هغے کښې ددے پوره تفصیل موجود دے۔

وَ آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**